(١)

# په اسلامي شريعت کې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د مبارکو احاديثو مرتبه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ »ژباړه:« څه چي پيغمبر (ص) تاسي ته درکوي، هغه واخلئ؛ او له څه شي څخه چي تاسي منع کوي، له هغه څخه منع شئ. د الله څخه ووېرېږئ، الله سخت سزا ورکوونکی دی.»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

يقينا الله جل جلاله خپل رسولان او پيغمبران د بشريت د لاربښوني او هدايت لپآره راليږلي دي ترڅو هغوي د تيارو څخه رڼا ته وباسی او د هلاکت څخه د نجات ژغورني او د کاميابی لوری ته وباسی پدي هکله الله جل جلاله فرمايي:« لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ» ژباړه:« موږ خپل پېغمبران له روښانو ځرګندو نښانو اوهداياتو سره وليږل؛ او له هغو سره مو کتاب او تله نازل کړل، تر څو چي خلك پرعدل ولاړ وي.»، بيا الله (ج) ټول رسالتونه په پيغمبر صلى الله عليه وسلم په رسالت باندي پاتي رسولي دي چې محمدي رسالت تر ټولو آخري رسالت دی لکه چې پدی هکله الله جل جلاله فرمايي:« شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا * وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا» ژباړه:« موږ ته شاهد او زېری ورکوونکی او وېروونکی لېږلی يې* او د

الله په اجازه د هغه لوري ته بلونکی او بله دېوه مو وګرځولی.» یو داسی د پاي رسالت چې د هري زماني او د هر ځاي لپاره وړتیا لري او همدارنګه پیغمبر (ص)باندي قرانکریم نازل کړی دی داسی یو کتاب چې محکم او معجزه لرونکې کتاب دی چې هیڅ باطل شیان ورکي نشته بیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته یی د احادیثو وحی کړی ده چې د کتاب الله تفصیل سره بیانونکي دي او دقرانکریم شرح کوونکي دی پدي هکله الله جل جلاله فرمایي:« وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ» ژباړه:« اوس مو دغه ذکر (قرآن) پر تا نازل کړیدی چي ته خلکو ته هغه ښوونه تشریح او توضیح کړې چي د هغو لپاره نازل کړه شوېده، او چي خلك (په خپله هم) غور او فکر وکړي».
که څوک د الله جل جلاله په کتاب کې فکر وکړي نو وبه ګوري چې یقینا الله جل جلاله د خپلو اوامرو او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اوامرو ترمنځ جمع والي راوستی دی او په ډېر ځایونو کې پدې باندي ټینګار کړی دی لکه چې فرمایي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ» ژباړه:« اې ایمان راوړونکو! د الله او د هغه د پېغمبر بلني ته لبیك ووایاست چي کله پېغمبر تاسي ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چي تاسي ته ژوند ښونکی دی» همدارنګه الله جل جلاله خپله رضامندي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د رضامندي سره تړلی دی لکه چې فرمایي:« وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَنْ يُرْضُوهُ إِنْ كَانُوا مُؤْمِنِينَ» ژباړه:« په داسي حال کښي چي که دوی مؤمنان وي، نو الله او پېغمبر ددې زیات وړ دی چي دوی د هغو د راضي کولو فکر وکړي».
همدارنګه الله جل جلاله خپل اطاعت د پیغمبر (ص) د اطاعت سره تړلي دی لکه چې فرمایي:« مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ» اوهمدارنګه دغه اطاعت یی د رحمت اوثواب لامل ګرځولي دی لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ» ژباړه:« او د الله او رسول حکم ومنئ. کېدای شي چي رحم در باندي وشي.»، او دغه اطاعت

په هغه وخت کې پوره کیږي چې کله ته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د احادیثو تابعداری وکړي لکه چې پدې هکله الله جل جلاله فرمايي:« قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ» ژباړه:« [اې پيغمبره (ص)!] خلکو ته ووایه: " که تاسي په رښتيا له الله سره مینه لرئ، نو زما د پیروی لاره غوره کړئ؛ الله به ستاسي سره مینه وکړي او ستاسي خطاوي به در وبښي. هغه ډېر ښه ښونکی او د رحمت څښتن دی».
د امت ټولو علماؤ او فقهاؤ پدې باندې اجماع کړی ده چې د پیغمبر (ص) په احادیثو باندی دلیل نیولی شو او د قرآنکریم څخه وروسته دا د شریعت دوهم مصدر ګڼل کیږي الله جل جلاله فرمايي:« وَأَنزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا» ژباړه:« الله پر تا کتاب او حکمت نازل کړی دی او تا ته يې هغه څه ښودلي دي چې درته معلوم نه ول، او پر تا د الله مهرباني ډېره زياته ده.»، او بيا فرمايي:« وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا» ژباړه:« د الله ايتونه او د حکمت هغه خبري چي ستاسي په کورونو کښي اورول کیږي، په یاد ولرئ. بېشکه الله باريك ليدونکی او باخبره دی.» او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مبارک احادیث د هغه صلی الله علیه وسلم ټولو ویناو کړونو او اقرار ته شاملیږي لکه چي الله ج جلاله فرمايي:« لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا» ژباړه:« په يقيني توګه، ستاسي لپاره د الله په پیغمبر کي د نېکۍ یوه خورا غوره نمونه ده، د هر هغه چا لپاره ده چي د الله او د اخرت د ورځې هېله من وي او الله ډېر ډېر یاد کړي.» او دا په ټولو  احوالو کې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم کومي ويناوي کړي دي هغه ته شامليږي د عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما څخه روایت دی د وایی: ما به هر هغه څه لیکل چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه به مي اوریدل او غوښتل مې چې زه هغه حفظ کړم نو قریشو زه لدي څخه

منع کړم او راته یی وویلي چې ته هر هغه څه لیکې چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه اوري او پیغمبر صلی الله علیه وسلم کله کله په رضامندي او غوصه کې هم خبری کوي نو ما خپل ځان ونیو او لاړم پیغمبر (ص) ته مې دا خبره وکړه نو هغه (ص) ماته پخپلو مبارکو ګوتو اشاره وکړه وی فرمایل: ولیکه، زما د په هغه ذات باندي قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی چې ددی څخه به د حق ماسواء به بل څه نه وځي.
قرانکریم د شریعت لومړني اصل او بنسټ دي او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم احادیث دوهم بنسټ راځي ځکه چې دا د کتاب الله شرح او تفسیرکوونکې او بیانونکې دي ځکه پیغمبر (ص) په ټولو خلکو کې ډیر زیات پوه وو پدي باندي چې په کتاب الله کې د الله جل جلاله د ویناوو مقصد څه دی او د هغه قضاء حکم او فیصله داسی دی چې ګویا د الله جل جلاله له لوري حکم او فیصله شوی وي الله جل جلاله پدي هکله فرمایي:« وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ» ژباړه:« هیڅ یو مؤمن او هیڅ یوه مومنه دا حق نه لري چې کله الله او د هغه رسول(ص) د کومې معاملې فیصله وکړي او بیا (د الله او د هغه د رسول په خلاف) هغه پخپله د خپلې هغې معاملې د فیصله کولو اختیار ولري»او بیا فرمایي:« فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا»ژباړه:« نه، اې محمده (ص)! ستا په رب قسم چې دوی هیڅکله مؤمنان کېدای نه شي، تر څو چې په خپل منځي شخړو کښي تا فیصله کوونکی ونه مني. بیا چې ته څه فیصله وکړې، پر هغې باندي په خپلو زړونو کښي هم څه تنګي احساس نه کړي؛ بلکې سر تر پایه یې ومني. »او بیا فرمایي:« وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ»ژباړه:« دوی چې کله کوم د ډاډ یا ویرې خبر اوري، هغه خپروي؛ په داسې حال

کښي چي که دوی هغه (خبر) پیغمبر او د خپلي ډلي مسئولو کسانو ته ورسوي، نو بیا هغه به داسي ډول خلك وپوهیږي چي د دوی په منځ کښي د دې خبري صلاحیت لري چي له هغې څخه سمه نتیجه واخیستلی شي»، همدارنګه مونږ ته الله جل جلاله خبرداری راکړیدی چې د پیغمبر(ص) د احادیثو او د امر خلاف ورزي باید ونکړوو لکه چې فرمايي:« فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ» ژباړه:« د پیغمبر(ص) له حُکم څخه سر غړوونکي باید ووېریږي چي په کومه فتنه کښي اخته نه شي یا دردناك عذاب پرې رانشي.».

همدارنګه د پیغمبر (ص) احادیثو هغه څه چې په قرانکریم په اجمالي ډول سره بیان شوي دي د هغه تفصیل یی بیان کړی دی په قرانکریم کې په لمانځه او زکات باندي امر شوی دی خو په اجمالي ډول باندي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ» ژباړه:« او لمونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ» نو بیا مونږ څنګه کولای شو چې د اسلام ارکان چې لمونځ زکات وا حج دی اداء کړو پرته لدي چې د پیغمبر (ص) د احادیثو له لوری توزیع او څرګندونه نوی شی نو همدا ده چې پیغمبر (ص) ددی تفصیل بیان کړي او فرمایلي دي چې تاسو داسی لمونځ کوی لکه څنګه چې ما ګوری لمونځ کوم او د هغه کیفیت یی بیان کړی دی لکه فرمايي: کله چې لمانځه ته پاسیږي نو تکبیر ووایه او بیا هغه څه ووایه چې تاته اسان وي د قرآنکریم څخه بیا رکوع وکړه ترڅو چې مطمئنه شی بیا سجده وکړه بیا پاسیږه او تردي چې مطمئن وسی کینه او دا په ټول لمانځه او رکعتونو کې داسی وکړه د زکات په هکله پیغمبر (ص) وسلم هم په ډیری احادیثو کې د هغه تفصیل بیان کړی دی او د هغه ټولی برخي یی بیان کړي دي او حج یی هم همداسی بیان کړیدی لکه چې فرمايي: ماته وګوری زه چې څنګه اداء کوم تاسو هم هماغسی اداء کړی،او کله چې یوسړئ عمران بن حسین رضي اله عنه ته راغي ورته یی وویل چې د غه احادیث چې تاسو مونږ ته پري خبری کوي او حال دا چې تاسو

قرانکريم پرى ايښي دى؟  نو هغه ورته وفرمايل ايا ته ګورى که ته او ستا ملګري قرانکريم راوړي په قرانکريم کې په کوم ځاي کې تاسو پوهيږي چې د ماسپخين لمانځه رکعتونه دومره دي او د ماذيګر دومره او وختونه يى او د ماښام د لمانځه همداسى او همدارنګه په عرفي باندي ودريدل او د جمراتو ويشتل او داسى نور.
لکه څنګه پيغمبر صلى الله عليه وسلم د قرانکريم مجمل شيان په احاديثو کې په تفصيل سره بيان کړي دي همداسى يى مطلق شيان مقيد کړي دي لکه چې وصيت يى په دريمي برخى باندي مقيد کړى دى او همدارنګه دايى يى بيان کړي دي چې د وارث لپآره وصيت نشته، د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دى دى وايى چې پيغمبر (ص) زما پوښتنه وکړه او زه په مکه کې ناروغ ومه ماورته وويل چې زما لپآره پيسى دي زه غواړم چې ټول مال باندي وصيت وکړم نو هغه وفرمايل چې نه، بيا مي ورته وويلي چې په يوه برخه باندي بيا مي ورته وويلي چې په دريمه برخه باندى بيا هغه وويلي چې دريمه برخه ډير دى ځکه که ته چيرته خپل وارثان غنيان پريږدي دا لدي څخه غوره دى چې هغوي پريږدي چې خلکو لاسو ته کيني همدارنه پيغمبر(ص)بيان کړي دي چې د وارث لپاره وصيت نشته لکه چې فرمايي: د وارث لپآره وصيت نشته همدارنګه د پيغمبر (ص) په احاديثو کې د ښځي او د هغه د عمي ترمنځ جمعوالى حرام شوى دى او همدارنګه د ښځي او د هغه د خاله ترمنځ لکه چې فرمايي:په يو ښځه باندي چې دويمه ښځه کوي نو د هغه عمه او خاله به نکوي.

## اقول قولى هذا و استغفرالله لى ولـکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دى چې د ټولو مخلوقاتو پالونکى دى، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دى

چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

مونږ پدي باندي ټينګار کوو چې د پيغمبر (ص) د احاديثو مرتبه دليل او ځاي په شريعت کي ډير لوي دي په عين وخت کي مونږ پدي باندي هم ټينګار کوو چې د سنتو او عباداتو او همدارنګه د عاداتو ترمنځ بايد توپير وشي چې د زماني په بدليدلو سره هغه بدليږي او همدارنګه د ځاي په بدليدلو او د خلکو د عاداتو په بدليدو سره هغه هم بدليږي لکه هغه څه چي د خلکو د لباس کاليو او د سفر د وسايلو پوری اړه ولري او يا د دي پرته نور داسی عرفونه چې د خلکو ترمنځ په بيلابيلو زمانو کې موجود وي ځکه په هر عصر کې د خلکو عادتونه او دودونه موجود وي چې د بل زماني څخه هغه توپير کوي دا معقوله خبره ندي چې مونږ په خلکو باندي هغه څه تحميل کړو او عادت په سفر په خوراک او يا په لباس کې چې د پيغمبر (ص) په زمانه کې وو او مونږ ووايو چې ګويا دا د پيغمبر (ص) څخه تابعيت دی ځکه چې د عاداتو او د دودونو مرجع عرف دی او هغه څه دي چې د زماني او د چاپيريال سره مناسب وي خو دا تر هغه وخته پوري چې د شريعت ثابتو شيانو سره مخالفت رانشي کله چې امام شافعي رحمه الله د سر پټول لازمي وګرځول دا ددي لپآره چې د هغه زماني او د چاپيرپال د حالاتو مراعات وکړي که نن زمانه کي څوک دا ونکړي نو هيڅ خبره نشته ځکه چې چاپيرپال او دودونه ددي تقاضا نکوي.

همدارنګه مونږ پدي باندي ټينګار کوو چې د پيغمبر (ص) د احاديثو دښمنان په دوه ډوله دي لومړي په دين باندي سودا کوونکي او تخريب کوونکي هغه کسان چې د پيغمبر (ص) احاديث د يو ځانګړي اهدافو لپآره

استعمالوي او په ترڅ کې د خلکو ويني تويوي او د دين د نوم څخه ګټه پورته کوي او حال دا چې دين ددوي څخه بري دی پيغمبر (ص) مونږ ته خبرداری راکړي چې بايد ددوي څخه ځان وساتو لکه چې عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت دي چې نبي کريم (ص) فرمايلي دي: زه چې پخپل امت باندي ډير ويريږم د هغه منافقانو څخه ويريږم چې د هغوي ژبه به ډيره تيره وي.
دويم هغه کسان دي چې علم نلري او د هغه وسايل نلري او په احاديثو کو خبری کوي پيغمبر (ص) هم مونږ ته خبرداری راکړيچژ ددوي څخه بايد ځان وژغورو نو د پيغمبر (ص) احاديث د هر هغه کارونو څخه بيزاره دي چې هغه د زغم او د اسلام منځلاريتوب او لاره نه بيانوي او تندروي لاری ته بيايی ځکه چې پيغمبر (ص) فرمايلي دي: نږدی ده چې داسی خلک به پيدا شي چې پخپل بستره باندي تکيه کوونکي وي او د زما په احاديثو په هکله به خبری کوي اوبايد چې زمونږ او ستاسو منځ کې کتاب دی او مونږ به ديته ګورو او حلال تری حلالوو او مونږ پدي کې ګورو هغه څه چې پکې حرم وي حراموو خبردار هغه څه چې پيغمبر (ص) حرام کړي دي داسی دي چې ګويا الله جل جلاله حرام کړی وي.
د حد څخه تيری او تندروي د اسلام د منځلاريتوب څخه لری دی او داد اسلام لاره نده او د احاديثو سره ظلم دي ځکه چې دا د قرانکريم د عامه مقاصدو څخه دي چې د اسلام منځلاريتوب او لاره بايد بيان شي او زغم پکې موجود وي ځکه چې اسلام مبارک دين بی له شکه بشپړ عدالت زغم او آسانتيا پکې ده او بشريت ته پکژ پاملرنه شوی ده او پخوا او اوسني علماؤ ټولو په هغه باندي ټينګار کړي دي هر هغه څه چې دغه لوي مقصدونه لاسته راوړي دا د اسلام مبارک دين څخه دي او هغه څه چې لدي سره په ټکر کوي وي هغه د اسلام د مقاصدو او داهدافو سره په ټکر کې دي.

نو د همدي ځایه د علماؤ او د متخصصینو رول باید مونږ بیان کړو چې هغوي د ګمراهانو او د منحرفو کسانو په وړاندي ودریږي که چې د پیغمبر (ص) احادیثو ککې هم بدي باندي ټینګار شوی دی چې باید علماء په هر زمانه کې د ګمراهانو په وړاندي ودریږي.
مونږ ډیر زیات اړتیا دیته لرو چې پیغمبر (ص) احادیثو باندي ځان پوه کړو د هغه مقصدونه او اهدافو باندي ځان پوه کړو یوائې ښکاره نص ته ونه ګورو بلکي د هغه ټولو اړخونو او مقصدونو ته وګورو او دا په هغه وخت کې ثابتیږي چې مونږ د پیغمبر (ص) احادیث په بشپړه توګه سره پریځان پوه کړو او پدي باندي ځان پوه کړو چې دا د هري زماني د ځاي سره برابر دي او خلک د پیغمبر (ص) ته نژدي کړو او دا نوښت دي چې د پیغمبر (ص) احادیثو غوښتنه یې کړې ده لکه چې فرمایي: الله (ج) ددغه امت لپاره په هرو سلو کلونو په سر کې یو څوک پیدا کوي چې ددوي دین به ورته نوي کوي.
**الله (ج) دی مونږ ته توفیق راکړي چې ستا په په کتاب باندي ځان پوه کړو اود پیغمبر(ص) په احادیثو باندي پوه شو او داسی علم دی راکړي چې ګټه رسوونکي وي، زمونږ هیواد د نړۍ د نورو هیوادونو سره په امن کې وساتي.**